اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ الْخَيْرِ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته دا دعا ورزده کړه: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ الْخَيْرِ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ النَّارِ، وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا». (يا الله! زه له تا څخه د ټول بېړني او راتلونکې خېر غوښتنه کوم، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې ناخبره يم، او تا ته پناه درووړم له هر بېړني او راتلونکي شر څخه، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې نا خبره يم، يا الله! زه له تا څخه د هغه خير غوښتنه کوم چې له تا څخه ستا بنده او پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم غوښتی و، او تا ته له هغه شر څخه پناه درووړم له کوم څخه چې ستا بنده او پيغمبر پناه غوښتې وه، يا الله! زه له تا څخه جنت او هغه وينا او عمل غواړم چې جنت ته پرې نږدې کېدل کېږي، او له اور او هغې وينا او عمل څخه پناه غواړم چې په هغې سره اور ته نږدې کېدل کېږي، او له تا څخه غواړم چې هره فيصله (پرېکړه) چې زما په اړه کوې، هغه ماته خير وګرځوې).

[صحيح]

رسول الله صلى الله عليه وسلم عايشې رضي الله عنها ته څلور جامعه دعاګانې ورښودلې دي: لومړ: عامه دعا ده چې هرې ښېګڼې ته شامله ده، (يا الله! زه له تا څخه د ټول خېر غوښتنه کوم) (عاجله) هغه چې وخت يې نږدې دی، (و آجله) او هغه چې لرې دی، (ما علمت منه) هغه چې تا يې په اړه پوهه راکړې ده (و ما لم أعلم) او هغه چې تا يې پوهه نه ده راکړې او ستا په علم کې شته. پدې دعا کې الله تعالى ته د چارو سپارل دي؛ هغه ذات چې پوه، خبر او مهربان دی، نو هغه پاک ذات د مسلمان لپاره غوره او ښايسته برخليک ټاکي، (و أعوذ) او پناه نيسم پر تا باندې له هر ډول بېړني او وروسته راتلونکي شر څخه؛ هغه چې زه پرې پوه يم او هغه چې په اړه يې راته علم نشته. دويمه دعا: دا ده چې مسلمان په دعا کې تجاوز و نه کړي (اللهم انى اسألک) يا الله زه له تانه سوال کوم، او د هغه خېر غوښتنه درنه کوم چې ستا بنده او پېغمبر صلى الله عليه وسلم يې غوښتنه کړې ده، (و أعوذ) او زه پنا نيسم پر تا له هغه شر څخه چې ستا بنده او پېغمبر صلى الله عليه وسلم ترې پنا غوښتې ده، او دا دعا او له الله تعالى څخه غوښتنه ده چې بلونکي (داعي) ته هغه څه ورکړي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې د ځان لپاره غوښتنه کړې ده، پرته له دې چې ډولونه يې وشميري. دريمه دعا: جنت ته د ننوتلو غوښتنه او له اور څخه ژغورل کېدل، او دا د هر مسلمان مقصد او له عمل څخه يې همدا موخه او هدف دی: (اللهم إني أسألك الجنة) يا الله زه له تانه د جنت سوال کوم، چې رانصيب يې کړې، (وما قرب إليها من قول أو عمل) او د هغې کړنې او نيک عمل چې ته پرې خوشحاله کيږې، (و أعوذ بک من النار) او پر تا له اور څخه پنا غواړم (وما قرب اليها من قول او عمل) او له هغې وينا او کړنې څخه چې ګناه وي او تا غصه کوي. څلورمه دعا: د الله تعالى په قضا او قدر باندې د خوښ غوښتلو دعا (و أسألک أن تجعل کل قضاء قضيته لي خيرا) او له تانه سوال کوم چې هره پرېکړه دې چې زما په حق کې کړې وي، هغه خير وګرځوه، او دا د الله تعالى په پرېکړه او فيصلې د رضايت غوښتلو دعا ده.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee